وزارت معارف
معینیت منابع و اداره
ریاست عمومی امور کارکنان

# رهنمود استخدام معلمین

# د ښوونکو د ګمارنې لارښود

شعبان ۱۴۴۶

بسم الله الرحمن الرحیم

## لومړی څپرکی
## عمومي حکمونه

### مبنی
**لومړۍ ماده:**

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۵/۶/۱۴۴۶ نېټې د (۲۹۰۱/۳۸۱) گڼه حکم او د وزارت د مقام د ۲۵/۷/۱۴۴۶ نېټې او(۵۸) گڼې هدایت.

### موخې:
**دویمه ماده:**

د دې لارښود موخې په لاندې ډول دي:

۱. د ښوونکو په خالي بستونو کې په شرایطو برابرو اشخاصو د گمارنې پړاونو تشریح او توضیح ؛

۲. د لیاقت، وړتیا او روڼتیا د اصل پر بنسټ د گمارنې فرصتونو برابرول؛

۳. په تشو بستونو کې د ښوونکو د گمارنې بهیر چټکول او د ښوونکو د نشتوالي له امله د ښوونځیو او درسي ټولگیو د زیانمنېدو مخنیوی؛

۴. د دې لارښود د پلي کېدو لپاره د ټولو ښکېلو خواوو د مکلفیتونو او دندو ټاکل.

### اصطلاحگانې:
**درېیمه ماده:**

په دې لارښود کې لاندې اصطلاحگانې دامفهومونه افاده کوي:

**۱. ښوونکی:** د ملکي خدمتونو هغه مامور او منسوب چې د معتبر تحصیلي سند لرونکی وي او د دې لارښود پر بنسټ، د درسي نصاب د پلي کولو او د زده کوونکو د ښوونې او روزنې د اسانتیا لپاره د اړوندې رشتې سره سم، په تش بست کې گمارل کېږي.

**۲. د گمارنې نوماند:** هر افغان تبعه چې د ښوونکو په بستونو کې د گمارنې لپاره غوښتنلیک وړاندې کوي.

**۳. د نوماند ارزونه:** عبارت له هغه پروسې څخه دی چې په ترڅ کې یې د گمارنې حداقل معیارونو پراساس، د نوماندانو ترمنځ تر ټولو غوره او وړ نوماند د هر بست لپاره، ټاکل کېږي.

### د پلي کېدو ساحه
**څلورمه ماده:**

دا لارښوود د ولایتونو او کابل ښار د عمومي او سواد زده کړو ښوونځیو په تشو بستونو کې د وړ اشخاصو د گمارنې په موخه پلي کېږي.

## فصل اول
## احکام عمومی

### مبنی
**ماده اول:**

حکم شماره (۲۹۰۱/۳۸۱) مورخ ۱۴۴۶/۶/۵ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی و هدایت شماره (۵۸) مورخ ۱۴۴۶/۷/۲۵ مقام وزارت.

### اهداف:
**ماده دوم:**

اهداف این رهنمود قرار ذیل می باشد:

۱. تشریح و توضیح مراحل استخدام اشخاص واجد شرایط در بست های خالی معلمین؛

۲. مساعد نمودن فرصت های استخدام مبتنی بر اصل لیاقت، شایستگی و شفافیت؛

۳. تسریع روند استخدام در بست های خالی معلمین و جلوگیری از آسیب پذیری مکاتب و صنوف درسی ناشی از عدم موجودیت معلمین؛

۴. تعیین مکلفیت ها و وظایف جوانب ذیدخل در تطبیق این رهنمود.

### اصطلاحات
**ماده سوم:**

اصطلاحات آتی در این رهنمود مفاهیم ذیل را افاده میکند:

۱. **معلم:** کارکن و منسوب خدمات ملکی دارنده سند فراغت معتبر که به منظور تطبیق نصاب تعلیمی و تسهیل پروسه آموزش و پرورش متعلمین مطابق رشته بست بر اساس این رهنمود در بست خالی استخدام میگردد؛

۲. **کاندید استخدام:** هر تبعه افغانستان که به منظور استخدام در بست های معلمین درخواستی ارایه مینماید؛

۳. **ارزیابی کاندید:** عبارت است از پروسه ای که بر مبنی آن بهترین کاندید واجد شرایط بر مبنی حداقل معیار های استخدام از میان کاندیدان یک بست تشخیص داده میشود.

### ساحه تطبیق
**ماده چهارم:**

این رهنمود به منظور استخدام اشخاص واجد شرایط در بست های خالی معلمین مکاتب تعلیمات عمومی و سواد آموزی معارف ولایات و شهر کابل تطبیق میگردد.

د افغانستان اسلامي امارت د ښوونې او روزنې وزارت

## مسؤولې مراجع

**پنځمه ماده:**

۱. د کارکوونکو چارو لوی ریاست؛
۲. د نصاباو مسلکي پراختیا لوی ریاست؛
۳. د ولایتونو /کابل ښار د پوهنې ریاستونه؛
۴. د ولسوالیو/ ښونیزو حوزو او د پوهنې ښاري آمریتونه
۵. د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونه.

## په خالي بستونو کې د ښوونکو د ګمارنې لپاره د اړتیاوو د تثبیت معیارونه

**شپږمه ماده:**

۱. د ښوونځي په تشکیل کې اضافه زمره ښوونکي شتون و نلري؛
۲. په ښځینه ښوونځیو کې هېڅ په کورناستې برحاله ښوونکې شتون و نلري.
۳. که چیرې د یوه ټولګي د درسي شعبو شمېر له دوه څخه زیات وي، نو د ټولګي د حاضرو زده کوونکو تر ټولو زیات شمېر باید د درسي شعبو د جوړولو د نورمونو مطابق، د اړونده کړنلارې او لوایحو سره سم مراعات شوی وي.
۴. د ښوونځیو مسؤلین نه شي کولای چې د خپلو ښوونکو تدریسي مکلفیتونه، په اونۍ کې د حداقل تدریسي ساعتونو د نورم څخه د اړوندې کړنلارې او لایحې خلاف را کم کړي.
۵. د ګمارنې په موخه د ښوونکو د تشو بستونو د تثبیت لپاره دې، د محرومو او دائمي غیر حاضرو زده کوونکو شمېر محاسبه نه شي.
۶. د ښوونځي اداره نه شي کولای چې د ګمارنې په پروسه کې د زیاتو تشو بستونو د شمولیت لپاره د اړوندې کړنلارې او لایحې خلاف د حد اقل او حد اکثر زده کوونکو شمېر په پام کې نه نیولو سره درسي شعبې تجزیه کړي.
۷. د ښوونځیو مدیران او آمرین مکلف دي چې خپل له اړتیا زیات بستونه، په رسمي ډول د دې سند د ۱-۶ فقرې د حکمونو سره سم، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو ته د تشکیلاتي انډول په موخه، وخت پر وخت د پنځو کاري ورځو په ترځ کې وسپاري.
۸. که چیرې د ښوونکو تش بستونه د دې مادې د ۱-۶ فقرې د حکمونو خلاف ډک شي، مسؤلیت به یې د ښوونځي د مدیرانو او آمرینو په غاړه وي.
۹. د ولسوالیو د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا ټیمونه، د ښار د پوهنې او ښوونیزو حوزو آمریتونه مکلف دي چې د دې مادې د مندرجو موادو له پلي کېدو څارنه وکړي، د نه مراعاتولو په صورت کې به مسؤول ګڼل کېږي.

## مراجع مسؤول

**ماده پنجم:**

۱. ریاست عمومی امور کارکنان؛
۲. ریاست عمومی نصاب و انکشاف مسلکی معلمان؛
۳. ریاست های معارف ولایات/شهر کابل؛
۴. آمریت های معارف ولسوالی ها، معارف شهری و حوزه های تعلیمی؛
۵. تیم های تربیه معلم و انکشاف مسلکی.

## معیار ها برای تثبیت نیازمندی استخدام در بست های خالی معلمین

**ماده ششم:**

۱. معلم اضافه زمره در تشکیل مکتب وجود نداشته باشد؛
۲. درمکاتب اناث معلمین اناث برحال خانه نشین وجود نداشته باشد؛
۳. در صورت موجودیت بیشتر از دو شعبه درسی از یک صنف، برای بست کمبود تعداد حداکثر شاگرد حاضر و موجود مطابق نورم های تشکیل شعبه درسی در طرزالعمل و لوایح موضوعه مراعات گردیده باشد؛
۴. مسئولین مکاتب نمی توانند مکلفیت های تدریسی معلمین خویش را مطابق نورم حداقل ساعت تدریسی در هفته خلاف طرزالعمل و لایحه مربوطه کاهش دهند؛
۵. در تثبیت بست های خالی معلمین غرض استخدام تعداد شاگردان محروم و غیر حاضر دائمی محاسبه نگردد؛
۶. اداره مکتب نمی تواند برای شمولیت بست های خالی بیشتر برای ا ستخدام شعبات در سی را بدون در نظردا شت تعداد حداقل و حداکثر شاگردان خلاف طرزالعمل و لایحه مربوطه تجزیه نمایند؛
۷. مدیران و آمرین مکاتب مکلفیت دارند تا بست های اضافه ضرورت خویش را مطابق مواد مندرج فقره ۱-۶ این سند به منظور توازن سازی تشکیلاتی مکاتب رسماً به آمریت های معارف ولسوالی عندالموقع در مدت پنج یوم ارسال نمایند؛
۸. در صورتیکه در بست های خالی معلمین خلاف مواد مندرج فقره ۱-۶ این ماده استخدام صورت میگیرد مسئولیت بدوش مدیران و آمرین مکاتب میباشد؛
۹. تیم های تربیه معلم و انکشاف مسلکی معلمین ولسوالی ها، معارف شهری و حوزه های تعلیمی مکلفیت نظارت از تطبیق مواد مندرج این ماده را داشته و در صورت عدم رعایت مسؤول شناخته میشوند.

## د ګمارنې عمومي شرطونه

**اوومه ماده:**

هغه نوماندان چې د ښوونکو په بستونو کې د ګمارنې غوښتنه لري، باید د دندو د لایحې او د بستونو د اعلان له شرایطو او معیارونو سربېره، لاندې شرطونه هم پوره کړي:

۱. د ۱۸ کلنۍ عمر بشپړول؛
۲. د تابعیت تذکره لرل؛
۳. د کورنیو یا بهرنیو تعلیمي او تحصیلي بنسټونو څخه د فراغت معتبر سند لرل ؛
٤. د جسمي او روحي روغیتا برابر شرایط لرل؛
۵. په جرمونو نه وي مرتکب شوی؛
٦. د نیک سیرت او صورت لرل.

## په تشو بستونو د ښوونکو د ګمارنې معیارونه

**اتمه ماده:**

۱. **د تحصیل حداقل درجه:** له کورنیو یا بهرنیو تعلیمي او تحصیلي مراجعو څخه لږ تر لږه د فوق بکلوریا (۱۴ پاس) معتبر سند یا د اسلامي زده کړو په برخه کې د معادل سند لرل.
۲. **د اصول صنفي دورې (۱-۳ ټولګي) د ښوونکو په بستونو کې د تحصیل رشته:** د ښوونې او روزنې د لوړو او نیمه لوړو زده کړو د ښوونې او روزنې، ښوونکو د روزنې او د اسلامي زده کړو ټولې رشتې.
۳. **د اصول تدریس (۴-۱۲ ټولګي) په بستونو کې د تحصیل رشتې:** د ښوونې او رزونې د نیمه او لوړو زده کړو او د اسلامي تعلیماتو تحصیلي رشتې چې د بست د تدریس له رشتې سره مطابقت و لري.
٤. **د تدریس ژبه :**د ښوونځي د ټولو درسي مضمونونو لپاره د تدریس ژبه باید د زده کوونکو د ټولګیو له ژبې سره سم و ټاکل شي.
۵. **د بست جنسیت :**د ابتدايي، متوسطې او لیسې دورو د بست جنسیت د زده کوونکو د جنسیت پراساس ټاکل کېږي. که چیرې د جنسیت مطابق د ګمارنې لپاره نوماند موجود نه وي، نو په ابتدايي دوره کې د پوهنې وزارت د پالیسی سره سم د ښوونکو د ګمارنې لپاره اقدام ترسره شي.

## دویم څپرکی

## د ګمارنې پړاوونه

### د تشو بستونو تثبیتول

**نهمه ماده:**

۱. د ښوونځیو مدیریتونه او آمریتونه مکلف دي چې د دې لارښود د شپږمې مادې پراساس، د تشو بستونو معلومات د دوه ورځو په ترځ کې د ګمارنې لپاره رسماً اړوند د ولسوالیو/ښونیزو حوزو د پوهنې آمریت ته واستوي؛

## شرایط عمومی استخدام

**ماده هفتم:**

متقا ضیان ا ستخدام در ؛ ست های معلمین علاوه بر تکمیل شرایط و معیار های استخدام مندرج در لوایح وظایف و اعلان بست ها باید شرایط ذیل را تکمیل نمایند:

۱. تکمیل سن ۱۸ سالکی؛
۲. داشتن تذکره تابعیت؛
۳. داشتن سند فراغت معتبر از نهاد های تعلیمی و یا تحصیلی داخلی و یا بیرون مرزی؛
۴. مساعد بودن شرایط صحی جسمی و روحی؛
۵. عدم ارتکاب به جرایم؛
۶. داشتن حسن سیرت و صورت.

## معیار های استخدام در بست های خالی معلمین

**ماده هشتم:**

۱. **حداقل درجه تحصیل:** داشتن حداقل سند فراغت معتبر فوق بکلوریا (۱۴ پاس) و یا معادل آن در تعلیمات اسلامی از یکی از مراجع تعلیمی و تحصیلی داخلی و یا بیرون مرزی؛
۲. **رشته تحصیل در بست های اصول صنف (صنف ۱-۳):** تمام رشته های تحصیلی و نیمه عالی تعلیم و تربیه، تربیه معلم و تعلیمات اسلامی؛
۳. **رشته تحصیل در بست های اصول تدریس (صنف ۴-۱۲):** رشته های تحصیلی و نیمه عالی تعلیم و تربیه و تعلیمات اسلامی مرتبط با رشته های تدریس بست؛
۴. **زبان تدریس:** زبان تدریس بست در تمام مضمون ها باید مطابق زبان شاگردان صنوف درسی مکتب تعیین گردد؛
۵. **جنسیت بست:** جنسیت بست در دوره های ابتدائیه، متوسطه و لیسه بر اساس جنسبت شاگردان تعیین میگردد، در صورت عدم موجودیت متقاضی استخدام مطابق جنسیت در بست های دوره ابتدائیه میتوان طبق پالیسی وزارت معارف برای استخدام معلمین اقدام نمود.

## فصل دوم

## مراحل استخدام

### تثبیت بست های خالی

**ماده نهم:**

۱. مدیریت ها و آمریت های مکاتب مکلفیت دارند تا مطابق موارد مندرج ماده ششم این رهنمود بعد از خالی شدن بست مکتب الی مدت دو یوم معلومات بست را به منظور استخدام رسماً به آمریت معارف ولسوالی/حوزه تعلیمی مربوطه ارسال نماید؛

۲. د ولایتونو د پوهنې ښاري آمریتونه او د کابل ښار ښوونیزې حوزې مکلفې دي چې د خپلو ښوونځیو د تشو بستونو معلومات له ترلاسه کولو وروسته ژر تر ژره د ګمارنې په موخه رسماً د پوهنې اړوند ریاستونه ته واستوي.

## د محل په کچه د ګمارنې اعلان او خبرتیا ورکول

**لسمه ماده:**

۱. په ولسوالیو کې د ښوونکو خالي بستونه د ور نوماندانو د پېژندلو په موخه، د ښوونځیو، جوماتونو په باندنی محوطې او د ولسوالي مقام په کچه پرتاکلي وخت د دې لارښود د (دویمې) ضمیمې سره سم په لیکلي بڼه اعلانېږي.

۲. د ولایتونو په مرکزونو کې د ښوونځیو تش بستونه د جوماتونو په باندنی محوطې، د پوهنې ریاست د خبرتیاوو په بورډ، د ولایت مقام او دولتي ادارو له لارې، په لیکلي ډول او پر وخت اعلانېږي.

۳ .د کابل ښار د ښوونځیو تش بستونه د ښوونځیو، ښوونیزو حوزو، د جوماتونو په باندنی محوطې او د کابل ښار د پوهنې ریاست په کچه، په لیکلي ډول او پر وخت اعلانېږي.

۴ .د ښوونکو بستونه په ټاکل شوو ځایونو کې د پنځو کاري ورځو لپاره اعلانېږي.

۵ .د بستونو د اعلان په جریان کې، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونه او د ولایتونو د پوهنې ریاستونه (د ښوونیزو حوزو او د ولایتونو د مرکزونو بستونه) مکلف دي چې د متقاضیانو غوښتنلیکونه راټول کړي.

## د اعلان محتویات

**یولسمه ماده:**

د بستونو په اعلان کې لاندې موارد په لیکلي ډول درج شي:

☒. د بستونو د اعلان د پیل او پای نېټه؛

۲ .د بست موقعیت (د ښوونځي نوم)؛

۳ .د بست عنوان؛

۴ .د بست تشکیلاتي کود؛

۵ .د بست د تدریس رشته؛

٦ .د بست د تدریس ژبه؛

۷ .د بست جنسیت؛

8 .د ګمارنې شرایط او معیارونه (د تحصیل حداقل کچه او اړوند تحصیلي رشته)؛

۹ .د غوښتنلیک لپاره د اړینو اسنادو او ضمیمو نوملړ؛

۱۰ .د غوښتنلیک او ضمیمه شوو اسنادو د سپارلو مشخص ځای؛

۱۱ .د ازموینې د اخیستو نېټه، ساعت او ځای؛

۱۲ .د ازموینې د وروستیو پایلو د اعلان نېټه

☒.

۲. آمریت های معارف شهری ولایات و حوزه های تعلیمی معارف شهر کابل مکلفیت دارد تا بعد از دریافت بست های خالی مکاتب خویش عندالموقع معلومات بست های خالی را به منظور استخدام به ریاست های معارف مربوطه رسماً ارسال نمایند.

## اعلان و اطلاع دهی استخدام در سطح محل

**ماده دهم:**

۱. بست های خالی معلمین به منظور شناسایی متقاضی واجد شرایط در ولسوالی ها به سطح مکاتب،در محوطه بیرونی مساجد و مقام ولسوالی طور کتبی و به موقع مطابق ضمیمه شماره (۲) این رهنمود اعلان میگردد؛

۲. به سطح مراکز ولایات بست های خالی در مکاتب، در قسمت بیرونی دروازه های ورودی مساجد، بورد اعلانات ریاست معارف، مقام ولایات و ادارات دولتی طور کتبی و به موقع اعلان میگردد؛

۳. به سطح حوزه های تعلیمی معارف شهر کابل بست های خالی در مکاتب، در قسمت بیرونی دروازه های ورودی مساجد و ریاست معارف شهر کابل طور کتبی و به موقع اعلان میگردد؛

۴. اعلان بست های معلمین در محل های تعیین شده برای مدت پنج روز کاری صورت میگیرد؛

۵. در جریان اعلان بست ها آمریت های معارف ولسوالی و ریاست های معارف ولایات (در بست های حوزه های تعلیمی و مراکز ولایات) مکلفیت دارند درخواستی متقاضیان را جمع آوری نمایند.

## محتویات اعلان

**ماده یازدهم:**

در اعلان بست ها موارد ذیل به صورت کتبی درج گردد:

۱. تاریخ شروع و ختم اعلان بست ها؛

۲. موقعیت بست (نام مکتب)؛

۳. عنوان بست؛

۴. کود تشکیلاتی بست؛

۵. رشته تدریس بست؛

۶. زبان تدریس بست؛

۷. جنسیت بست؛

۸. شرایط و معیار های استخدام (حداقل درجه تحصیل و رشته های تحصیلی مرتبط)؛

۹. لست اسناد و ضمایم مورد نیاز درخواستی؛

۱۰. محل مشخص ارایه در خواستی و اسناد ضمیمه ای؛

۱۱. تاریخ، ساعت و مکان اخذ امتحان؛

۱۲. تاریخ اعلان نتیجه نهایی امتحان.

## د غوښتنلیک وړاندې کول

**دولسمه ماده:**

۱ .نوماندان کولای شي چې خپل لیکلی غوښتنلیک د اړونده ولسوالیو د پوهنې آمریتونو او د ولایتونو د پوهنې ریاستونو ته، د کابل ښار او د ولایتونو مرکزونو په کچه، وسپاري.

۲ .د نوماندانو په غوښتنلیکونو کې باید لاندې موارد شامل وي:

- د تابعیت د پېژند پاڼې له مخې بشپړ شهرت؛
- د تحصیل کچه؛
- تحصیل رشته؛
- د تحصیل مرجع؛
- اوسنی استوګنځی؛
- د اړیکې شمېره؛
- د هغه ښوونځي نوم او د بست تشکیلاتي کود، چې نوماند غواړي پکې وګمارل شي.

## د غوښتنلیک ضمیمې

**دیارلسمه ماده:**

۱ .د ښوونکو په بستونو کې د ګمارنې متقاضیان، د خپل غوښتنلیک سره مل معتبرو تحصیلي اسنادو او د تابعیت تذکرې کاپي وړاندې کړي.

۲ .که نوماند د تدریس مخکینی کاري تجربه ولري، د خپلې کاري تجربې معتبر اسناد د غوښتنلیک سره ضمیمه کړي.

۳ .که چیرې متقاضي مخکې د خدمت یا د د خدمت په جریان کې د ښوونکو د روزنې روزنیزه برنامه بشپړه کړې وي، د روزنیز دورې د فراغت سند یا تصدیق پاڼې کاپی دې د غوښتنلیک سره مل کړي.

## د ګمارنې کمېټې

**څوارلسمه ماده:**

**۱ .د نوماندانو د ارزونې او د وروستي نوماند د ټاکلو په موخه، د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو په کچه لاندې کمېټه موظفه کېږي:**

- د پوهنې آمر د کمیټې د مسؤول په توګه؛
- د اړوند بست د ښوونځي آمر/ مدیر د کمیټې د غړي په توګه؛
- د دیني علومو د مسلکي پراختیا علمي کادر د کمیټې د غړي په توګه؛
- د ښوونکو د مسلکي پراختیا علمي کادر د بست د اړوندې رشتې مطابق د کمیټې د غړي په توګه؛
- د پوهنې آمریت مالي او اداري مسلکي غړی یا اجرائیه مدیر د کمیټې د منشي په توګه.

**۲ .د کابل ښار او اړوندو د پوهنې ریاستونو په کچه، په شرایطو برابر نوماندانو د پېژندنې او ارزونې لپاره لاندې کمېټه موظفه کېږي:**

- د پوهنې رئیس د کمیټې د مسؤول په توګه؛

## ارایه درخواستی

**ماده دوازدهم:**

۱. متقاضیان استخدام در بست های خالی معلمین میتوانند درخواستی کتبی خویش را به آمریت های معارف مربوطه در ولسوالی ها و ریاست های معارف ولایات در سطح شهر کابل و مراکز ولایات ارایه دهند.

۲. در متن درخواستی متقاضیان باید موارد ذیل درج گردد:

- شهرت مکمل شخص مطابق تذکره تابعیت؛
- درجه تحصیل؛
- رشته تحصیل؛
- مرجع تحصیل؛
- محل سکونت فعلی؛
- شماره تماس؛
- نام مکتب و کود تشکیلاتی بست که کاندید میخوهد در آن استخدام میگردد.

## ضمایم درخواستی

**ماده سیزدهم:**

۱. متقا ضیان ا ستخدام در بست ها معلمین در ضمیمه درخوا ستی کاپی اسناد تحصیلی معتبر و تذکره تابعیت خویش را ارایه دهند؛

۲. در صورتیکه متقا ضی ا ستخدام دارای تجربه قبلی تدریس با شد کاپی اسناد معتبر تجربه کاری خویش را ضمیمه درخواستی ارایه دهند؛

۳. در صورتیکه متقاضی برنامه های آموز شی تربیه معلم قبل از خدمت و یا داخل خدمت را سپری نموده باشند، کاپی سرتفیکت و یا سند تائیدی گذراندن دوره آموزشی خویش را ضمیمه درخواستی ارایه دهند.

## کمیته های استخدام

**ماده چهاردهم:**

**۱. به منظور ارزیابی کاندیدان جهت شناسائی کاندید نهایی به سطح آمریت های معارف ولسوالی ها کمیته ذیل توظیف میگردد:**

- آمر معارف منحیث مسؤول کمیته؛
- آمر/مدیر مکتب بست مربوطه عضو کمیته؛
- کادر علمی علوم دینی انکشاف مسلکی معلمان عضو کمیته؛
- کادر علمی انکشاف مسلکی معلمان مطابق رشته بست عضو کمیته؛
- عضو مسلکی مالی و اداری و یا مدیر اجرائیه آمریت معارف منحیث منشی کمیته؛

**۲. به سطح معارف شهر کابل و ریاست های معارف مربوطه جهت شناسائی و ارزیابی کاندیدان واجد شرایط کمیته ذیل توظیف میگردد:**

- رئیس معارف منحیث مسؤول کمیته؛

- د ښوونې او روزنې آمر د کمیټې د غړي په توګه؛
- د سرچینو او ادارې آمر د کمیټې د غړي په توګه؛
- د ښار د پوهنې یا د اړوندې ښوونیزې حوزې آمر د کمیټې د غړي په توګه؛
- د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا د دیني علومو علمي کادر د کمیټې د غړي په توګه؛
- د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا /د ساینس مرکز علمي کادر، د بست د اړوندې رشتې مطابق، د کمیټې د غړي په توګه؛
- د کارکوونکو د چارو عمومي مدیر د کمیټې د منشي په توګه.

## د ګمارنې د کمیټو دندې او مکلفیتونه

**پنځلسمه ماده:**

۱ .د تشو بستونو تثبیت او راټولول، د دې لارښود د شپږمې مادې او (۱) ضمیمې له مخې د بست ځانګړتیاوې مشخصول.

۲ .د دې لارښود د یولسمې مادې او (۲) ضمیمې سره سم د بستونو د اعلان ترتیبول؛

۳. د ګمارنې لپاره په شرایطو برابرو نوماندانو پېژندل (شارټ لېست جوړول):
د ګمارنې په موخه په شرایطو برابرو نوماندانو پېژندل او د شارټ لېست د ترتیبولو لپاره د کمیټې منشي او د ښوونکو د مسلکي پراختیا د ټیم دوه علمي غړي مکلف دي چې لاندې چارې ترسره کړي:

- د غوښتنلیک او ضمیمه شوو اسنادو ارزونه او د ښوونکو د ګمارنې له معیارونو او شرایطو سره یې پرتلنه؛
- په حضوري ډول د یو بست لپاره په شرایطو وړ نوماندانو پېژندل، د اسنادو د ارزونې پایله چې نوماند د ګمارنې شرایط پوره کوي که نه، همهماله د غوښتنلیک د سپارلو پر مهال ورته اعلانېږي؛
- د ګمارنې کمیټې مکلفې دي چې د ازموینې له ترسره کېدو وړاندې، په شرایطو برابرو نوماندانو نوملړ د (۳) ضمیمې له مخې ترتیب او تائید کړي.

۴ .د ګمارنې کمېټې مکلفې دي چې د تحریري ازموینې له لارې د نوماند د اسلامي او دیني معلوماتو، مضموني پوهې، او مسلکي مهارتونو ارزونه وکړي، ترڅو بریالی نوماند په نښه شي.

## د ازموینې د پوښتنو ترکیب

**شپاړسمه ماده:**

د نوماندانو د ارزونې ازموینه به په لاندې تفکیک سره ۲۰ پوښتنې ولري:

**۱ .څلور تشریحي پوښتنې، په دې ترتیب:**

- دوه پوښتنې د دیني او اسلامي معلوماتو څخه، چې هره یوه یې ۱۰ نمرې لري، ټولې ۲۰ نمرې (هره پوښتنه دوه اختیاري برخې لري)، او

- آمر تعلیم و تربیه منحیث عضو کمیته؛
- آمر منابع و اداره منحیث عضو کمیته؛
- آمر معارف شهری/آمر حوزه تعلیمی مربوطه منحیث عضو کمیته؛
- کادر علمی علوم دینی تربیه معلم و انکشاف مسلکی عضو کمیته؛
- کادر علمی تربیه معلم و انکشاف مسلکی و یا مرکز ساینس معارف مرتبط به رشته بست عضو کمیته؛
- مدیر عمومی امور کارکنان منشی کمیته.

## وظایف و مکلفیت های کمیته های استخدام

**ماده پانزدهم:**

۱. تثبیت و جمع آوری بست های خالی و تعیین مشخصات بست مطابق موارد مندرج ماده ششم در ضمیمه شماره (۱) این رهنمود؛
۲. ترتیب اعلان بست ها مطابق موارد مندرج ماده یازدهم و ضمیمه شماره (۲) این رهنمود؛
۳. شناسایی کاندید واجد شرایط استخدام (شارت لست):

به منظور شناسائی کاندیدان واجد شرایط و ترتیب شارت لست، منشی کمیته همراه با دو تن از کادر علمی تیم انکشاف مسلکی معلمان مکلفیت دارند تا فعالیت های ذیل را انجام دهند:

- مرور و بررسی درخواستی ها و اسناد ضمایم آن و مطابقت دادن آن با معیار ها و شرایط استخدام بست های معلمین؛
- شناسائی کاندیدان واجد شرایط در یک بست طور حضوری، در زمان ارایه درخواستی توسط متقاضی صورت میگیرد و نتیجه ارزیابی اسناد و مطابقت و یا عدم مطابقت شرایط شخص مندرج درخواستی و ضمایم آن با شرایط استخدام همزمان به اطلاع کاندید رسانیده میشود؛
- کمیته های استخدام مکلفیت دارند تا قبل از برگزاری امتحان ل ست کاندیدان واجد شرایط را مطابق ضمیمه شماره (۳) ترتیب و تائید نمایند؛

۴. کمیته های استخدام مکلفیت دارند تا از طریق امتحان تحریری معلومات دینی و اسلامی، دانش و مهارت های مضمونی و مسلکی کاندیدان را ارزیابی نموده و کاندید موفق را تشخیص نمایند.

## ترکیب سوالات امتحان

**ماده شانزدهم:**

امتحان ارزیابی کاندیدان دارای ۲۰ سوال به تفکیک ذیل میباشد:

**۱. چهار سوال تشریحی به صورت ذیل:**

- دو سوال از معلومات دینی و اسلامی هر سوال دارای ۱۰ نمره مجموعاً ۲۰ نمره ( هر سوال دارای دو جزء انتخابی میباشد که کاندید با پاسخ دادن کامل به یک جزء آن مستحق ۱۰ نمره میباشد)؛

د پوهنې وزارت

نوماند کولای شي د یوې برخې په بشپړ ځواب ورکولو سره ۱۰ نمرې ترلاسه کړي)؛

- یوه مسلکي او پیداګوژیکه پوښتنه، چې ۸ نمرې لري (پوښتنه دوه اختیاري برخې لري، او نوماند کولای شي د یوې برخې په بشپړ ځواب ورکولو سره ۸ نمرې ترلاسه کړي)؛
- یوه مضموني پوښتنه، د بست اړوندې رشتې مطابق چې ۸ نمرې لري (پوښتنه دوه اختیاري برخې لري، او نوماند کولای شي د یوې برخې په بشپړ ځواب ورکولو سره ۸ نمرې ترلاسه کړي).

**۲ .شپږ څلور ځوابه پوښتنې، چې هره یوه ۴ نمرې لري، ټولې ۲۴ نمرې په لاندې تفکیک سره:**

- یوه پوښتنه د دیني او اسلامي معلوماتو څخه، چې ۴ نمرې لري؛
- یوه پوښتنه د مسلکي او پیداګوژیکي برخې څخه چې ۴ نمرې لري؛
- څلور پوښتنې د اړوند مضمون څخه، د بست د رشتې مطابق، هره یوه یې ۴ نمرې لري چې ټولې ۱٦ نمرې کېږي.

**۳ .څلور خانه خالي پوښتنې، هره یوه ۴ نمرې لري، ټولې ۱٦ نمرې، په لاندې تفکیک سره:**

- دوه پوښتنې د مسلکي او پیداګوژیکي برخې څخه، هره یوه ۴ نمرې لري، ټولې ۸ نمرې؛
- دوه پوښتنې د اړوند مضمون څخه، هره یوه ۴ نمرې لري، ټولې ۸ نمرې.

**۴ .څلور لنډ ځوابه پوښتنې (جواب کوتاه)، هره یوه ۴ نمرې لري، ټولې ۱٦ نمرې، په دې تفکیک سره:**

- یوه پوښتنه د مسلکي او پیداګوژیکي برخې څخه چې ۴ نمرې لري؛
- درې پوښتنې د اړوند مضمون څخه چې هره یوه ۴ نمرې لري، ټولې ۱۲ نمرې.

**۵ . له اړوند مضمون څخه دوه سمې او ناسمې پوښتنې (صحیح او غلط)، هره یوه ۴ نمرې لري، ټولې ۸ نمرې.**

## د ازموینې سرچینې

**اوولسمه ماده:**

**۱. دیني او اسلامي معلومات د ټولو رشتو لپاره:**

- د تعلیم الاسلام کتاب؛
- د کامل لمونځ کتاب؛
- د نبوي سیرت کتاب (ص) (للندوی).

**۲. مسلکي او پیداګوژیکي معلومات د ټولو رشتو لپاره:**

- ښوونیزه او روزنیزه اراواپوهنه؛
- د ښوونکو لپاره د مطالعې مواد (د ښوونکو د داخل خدمت روزنې بسته/INSET 1 .

**۳. د اصول صنفي بستونو لپاره د ازموینې د ځانګړو پوښتنو سرچینې:**

- یک سوال مسلکی و پیداگوژیک دارای ۸ نمره ( سوال دارای دو جزء انتخابی میباشد که کاندید با پاسخ دادن کامل به یک جزء آن مستحق ۸ نمره میباشد)؛
- یک سوال مضمونی مطابق رشته بست دارای ۸ نمره (سوال دارای دو جزء انتخابی میباشد که کاندید با پاسخ دادن کامل به یک جزء آن مستحق ۸ نمره میباشد)؛

**۲. شش سوال چهار جوابه هر سوال دارای ۴ نمره مجموعاً ۲۴ نمره به تفکیک ذیل:**

- ۱ سوال دینی و اسلامی دارای ۴ نمره؛
- یک سوال از بخش مسلکی و پیداگوژیک دارای ۴ نمره؛
- چهار سوال از بخش مضمون مربوطه مطابق رشته هر سوال دارای ۴ نمره مجموعاً ۱٦ نمره؛

**۳. چهار سوال خانه خالی، هر سوال دارای ۴ نمره و مجموعاً ۱٦ نمره به تفکیک ذیل:**

- دو سوال از بخش مسلکی و پیداگوژیک هر سوال دارای ۴ نمره مجموعاً ۸ نمره؛
- دو سوال از بخش مضمون مربوطه هر سوال دارای ۴ نمره مجموعاً ۸ نمره؛

**۴. چهار سوال جواب کوتاه، هر سوال دارای ۴ نمره و مجموعاً ۱٦ نمره به تفکیک ذیل:**

- یک سوال از بخش مسلکی و پیداگوژیک دارای ۴ نمره؛
- سه سوال از بخش مضمون مربوطه هر سوال دارای ۴ نمره مجموعاً ۱۲ نمره؛

**۵. دو سوال صحیح و غلط از بخش مضمون مربوطه هر سوال داری ۴ نمره مجموعاً ۸ نمره.**

## منابع امتحان

**ماده هفدهم:**

**۱. معلومات دینی و اسلامی برای تمام رشته ها:**

- کتاب تعلیم الاسلام؛
- کتاب نماز کامل؛
- کتاب سیرت النبی (ص) للندوی.

**۲. مسلکی و پیداگوژیک برای تمام رشته ها:**

- روانشناسی تعلیمی و تربیتی؛
- موارد مطالعه برای معلمین (بسته آموزش داخل خدمت معلمان/INSET 1).

**۳. منابع سوالات اختصاصی امتحان در بست های اصول صنفی:**

- د ابتدايي دورې رياضياتو پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد؛
- د متوسطې او ليسې دورې رياضياتو پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښونيز مواد؛
- د ابتدايي دورې ديني علومو پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد؛
- د متوسطې او ليسې دورې ديني علومو پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد؛
- د ابتدايي دورې د لومړۍ او دويمې ژبې پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد؛
- د متوسطې او ليسې دورې د لومړۍ او دويمې ژبې پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد.

**۴. د عربي ژبې د بستونو لپاره د ازموينې دځانګړو پوښتنو سرچينې:**

- د اووم ټولګي د عربي ژبې مضمون پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد؛
- د اتم ټولګي د عربي ژبې مضمون پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد؛
- د نهم ټولګي د عربي ژبې مضمون پورې اړوند درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد.

**۵ .د نورو رشتو لپاره د ازموينې د ځانګړو پوښتنو سرچينې:**

- نصاب پورې اړوند د لسم ټولګي درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد (يوازې اړوند مضمون)؛
- نصاب پورې اړوند د يولسم ټولګي درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد (يوازې اړوند مضمون)؛
- نصاب پورې اړوند د دوولسم ټولګي درسي کتابونه، د ښوونکي لارښود، او نور اړوند ښوونيز مواد (يوازې اړوند مضمون).

۶ .که د ازموينې سرچينو کې تعديل او بدلونونه راشي، نو مشخص موارد په دې لارښود کې هم تعديلېږي او بدلونونه د پوهنې وزارت لخوا اعلانېږي، او په رسمي ډول به ټولو د پوهنې د ولايتو رياستونو او په سلسله وار ډول د پوهنې آمريتونو ته خپاره شي.

۷ .د ښوونکو د ازموينې سرچينې د پوهنې وزارت ويب پاڼې له لارې خپرېږي.

## د معياري پوښتنو بانک

**اتلسمه ماده:**

۱ . د ښوونيز نصاب، معياري ازموينو او د ښوونيزو پايلو د ارزونې او د ساينس مرکز رياستونو په ګډون، د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختيا تر نظر لاندې ګډه کمېټه مکلفيت لري چې د ښوونکو د بستونو د ازموينې لپاره له ټاکل شويو سرچينو پراساس، د پوښتنو معياري بانک ترتيب کړي چې لږ تر لږه زر پوښتنې ولري؛

- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به ریاضیات دوره ابتدائیه؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به ریاضیات دوره متوسطه و لیسه؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به علوم دینی دوره ابتدائیه؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به علوم دینی دوره متوسطه و لیسه؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به زبان اول و دوم دوره ابتدایه؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به زبان اول و دوم دوره متوسطه و لیسه؛

**۴. منابع سوالات اختصاصی امتحان در بست های زبان عربی:**

- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به مضمون زبان عربی در صنف هفتم؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به مضمون زبان عربی در صنف هشتم؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به مضمون زبان عربی در صنف نهم؛

**۵. منابع سوالات اختصاصی امتحان در سایر رشته ها:**

- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به نصاب صنف دهم (صرفاً مضمون مربوطه)؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به نصاب صنف یازدهم (صرفاً مضمون مربوطه)؛
- کتب درسی، رهنمای معلم و سایر مواد آموزشی مرتبط به نصاب صنف دوازدهم (صرفاً مضمون مربوطه)؛

۶. در صورت تعدیل و تغییرات در تعیین منابع امتحان، موارد مشخص در این رهنمود نیز تعدیل شده و تغییرات به میان آمده از طریق وزارت معارف اعلان میگردد و به صورت رسمی نیز به تمام ریاست های معارف ولایات و سلسلتاً به آمریت های معارف تکثیر میگردد.

۷. منابع امتحان معلمین از طریق ویبسایت وزارت معارف به نشر سپرده میشود.

## بانک سوالات معیاری

**ماده هجدهم:**

۱. کمیته متشکل از ریاست های نصاب تعلیمی، امتحانات معیاری و ارزیابی نتایج تعلیمی و مرکز ساینس در مشارکت و تحت نظر ریاست تربیه معلم و انکشاف مسلکی معلمان مکلفیت دارد تا از منابع مشخص شده برای امتحان بست های معلمین بانک سوالات معیاری با تعداد حداقل یک هزار سوال ترتیب دهد؛

د پوهنې وزارت

۲ .د کال په ترڅ کې، د پوښتنو بانک په دوامداره توګه بیاکتل کېږي او د ښوونیز نصاب د بدلونونو پراساس نوی کېږي؛

۳ . د پوهنې وزارت د لزوم دید په صورت کې د پوښتنو بانک چې د ځوابونو له کلي پرته، د نه بدلون وړ فایلونو په توګه د پوهنې وزارت ویب پاڼې له لارې خپرېږي.

## د ازموینې ترسره کول

**نولسمه ماده:**

۱ .د ګمارنې لپاره د کاندیدانو د ارزونې کمیټې په ولسوالیو، ولایتي مرکزونو او د کابل ښار د پوهنې په ریاست کې مسؤلیت لري چې ددې لارښود د (۱۶) مادې سر سم، هر بست پورې اړوند د پوښتنو د بانک څخه په ګټه اخیستنې سره د ازموینې پارچې د نوماندانو د شمېر مطابق تیارې کړي؛

۲ . د روڼتیا د تامین په موخه، د ازموینې پوښتنې د پوښتنو له بانک نه یو ساعت وړاندې ټاکل کېږي او پارچې د ازموینې لپاره تیارېږي؛

۳ .د ازموینې د ترسره کولو ځای، د نوماندانو د شمېر سر سم د ارزونې کمیټو لخوا د ولسوالیو، ولایتي ریاستونو او کابل ښار د پوهنې ریاستونو لخوا ټاکل کېږي؛

۴ .د ازموینې ممتحنین او څارونکي د ښوونځیو د مدیرانو، مجرب ښوونکو او د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیا د علمي کادري غړو له منځه ټاکل کېږي؛

۵ .د نوماندانو لپاره د پوښتنو د ځوابولو مناسب وخت ۱۲۰ دقیقې ټاکل کېږي.

۶. له ازموینې وروسته، پارچو ته د نمرو په ورکولو کې د روڼتیا په موخه، د نوماندانو شهرت له کود ورکولو وروسته له پارچو بېل او مهر لاک کېږي.

## د ازموینې پاڼې ارزول او نمره ورکول

**شلمه ماده:**

۱ .د نوماندانو د ارزونې کمیټې په ولسوالیو، ولایتي ریاستونو او د کابل ښار د پوهنې ریاستونو په کچه مکلفیت لري چې د روڼتیا د تأمینولو په موخه د ازموینې پاڼو ته په نمرو ورکولو کې د نوماندانو لخوا وړاندې شوي ځوابونه د مقایسوي ارزونې له لارې و ارزوي او د هر ځواب نمره وټاکي؛

۲. د پارچو له ارزونې وروسته، د نوماندانو مهر و لاک شوی شهرت خلاصېږي او د نوماندانو لېست له نمرو سره ترتیبېږي.

۳ .د یو نوماند لپاره د بریالیتوب معیاري نمرې له ۱۰۰ نمرو څخه لږ تر لږه ۶۰ نمرې دي؛

۴ .د معیاري نمرو لرونکو کاندیدانو څخه، هغه څوک چې تر ټولو لوړې نمرې ترلاسه کړي، د ګمارنې د ورستي نوماند په توګه ټاکل کېږي.

۲. در جریان سال بانک سوالات طور دوامدار بازنگری و بر اساس تعدیلات در نصاب تعلیمی به روز میگردد؛

۳. در صورت لزوم دید رهبری وزارت معارف بانک سوالات بدون کلید جوابات به صورت فایل های غیر قابل تغییر از طریق ویبسایت وزارت معارف به نشر سپرده میشود.

## برگزاری امتحان

**ماده نوزدهم:**

۱. کمیته های ارزیابی کاندیدان استخدام در ولسوالی ها، مراکز ولایات و معارف شهر کابل مکفیت دارند برای هر بست شامل پروسه استخدام با استفاده از بانک سوالات از قبل ترتیب داده شده مطابق ماده شانزدهم این رهنمود پارچه امتحان را به تعداد کاندیدان تهیه نمایند؛

۲. به منظور تأمین شفافیت، سوالات یک ساعت قبل از برگزاری امتحان از بانک سوالات انتخاب و پارچه های امتحان ترتیب میگردد.

۳. محل برگزاری امتحان متناسب به تعداد کاندیدان توسط کمیته های ارزیابی کاندیدان ولسوالی ها، ریاست های معارف ولایات و شهر کابل انتخاب میگردد؛

۴. ممتحنین و نظارت کننده گان از صحنه امتحان از میان مدیران، معلمان مجرب مکاتب و اعضای کادر علمی تربیه معلم و انکشاف مسلکی تعیین میگردد؛

۵. زمان مناسب ارایه پاسخ به سوالات برای کاندیدان ۱۲۰ دقیقه تعیین میگردد؛

۶. در ختم امتحان به منظور تامین شفافیت در نمره دهی پارچه ها، شهرت کاندیدان بعد کود گزاری از پارچه جدا و مهر لاک میگردد(کتینگ).

## نمره دهی و ارزیابی پارچه های امتحان

**ماده بیستم:**

۱. کمیته های ارزیابی کاندیدان به سطح ولسوالی ها، ریاست های معارف ولایات و شهر کابل مکلفیت دارند تا به منظور تأمین شفافیت در نمره دهی پارچه های امتحان، پاسخ های ارایه شده از جانب کاندیدان را طور مقایسوی ارزیابی نموده و نمره هر جواب را تعیین نمایند؛

۲. بعد از ختم ارزیابی پارچه ها، پاکت مهر و لاک شده شهرت کاندیدان باز شده و لست کاندیدان همراه با نمره امتحان آن ها ترتیب میگردد؛

۳. نمره معیاری برای موفقیت یک کاندید از مجموع ۱۰۰ نمره حداقل ۶۰ نمره میباشد؛

۴. از میان کاندیدان دارای نمره معیاری شخص دارای بالاترین نمره بحیث کاندید نهایی استخدام انتخاب میگردد.

د افغانستان اسلامي امارت
د ښوونې او روزنې معینیت
د پوهنې وزارت

## د پایلو اعلان او د شکایتونو ثبت

**یوویشتمه ماده:**

۱ . د ولسوالیو د پوهنې امریتونو، د ولایتونو پوهنې ریاستونو او د کابل ښار پوهنې ریاست په کچه د نوماندانو د گمارنې کمېټې مکلفیت لري چې د ازموینې له اخیستو څخه تر درېیو کاري ورځو د نوماندانو پایلې په کتبي ډول اعلان کړي؛

۲ .د ازموینې پایلې د درېیو کاري ورځو لپاره، نوماندانو ته د خبر ورکولو په موخه اعلانېږي؛

۳ .په ولسوالیو کې د پوهنې آمریتونه مکلفیت لري چې د پارچو له ارزونې وروسته، دازموینې پایلې د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته واستوي؛

۴ .هغه نوماندان چې د خپلو ازموینو له پایلو راضي نه وي، کولای شي د ازموینو د پایلو له اعلان وروسته تر درېیو کاري ورځو پورې د ولایتونو پوهنې ریاستونو کې خپل شکایتونه ثبت کړي.

## شکایتونو ته رسېدنه

**دوه ویشتمه ماده:**

۱ .د نوماندانو شکایتونو ته د رسېدنې په موخه، د ولایتونو د پوهنې ریاستونو په کچه لاندې کمېټه توظیف کېږي :

- د تضمین کیفیت آمر د کمیټې د مسؤل په توگه؛
- د ښوونکي د روزنې او مسلکي پراختیا یو تن علمي کادر/ په اړونده څانگه کې د ساینس مرکز کاردي غړی د کمیټې د غړي په توگه؛
- د څارنې او ارزونې عمومي مدیر د کمیټې د غړي په توگه؛
- د کارکوونکو چارو په عمومي مدیریت کې، د شکایتونو د رسېدنې مسلکي کارکوونکی د کمېټې د منشي په توگه؛

**۲. شکایتونو ته د رسېدنې کمېټې دندې او مکلفیتونه:**

- د کمیټې منشي مسؤلیت لري چې د پایلو له اعلان وروسته تر درېیو کاري ورځو د نوماندانو شکایتونه د پوهنې ریاست له رسمي ارجاع وروسته ثبت او شکایتونو ته د رسېدنې کمېټې کاري اجنډا ترتیب کړي؛
- شکایت ته د رسېدنې په موخه د اړتیا وړ اسنادو کې د شکایت کوونکي نوماند د ازموینې پارچه د پوښتنو د ځوابونو له کلي سره یو ځای، په رسمي ډول د نوماندانو د ارزونې له کمیټې را غوښتل کېږي؛
- شکایتونو ته د رسېدنې کمېټه مسؤلیت لري چې د نوماندانو شکایتونو ته د رسیدنې لپاره، د اسنادو له ترلاسه کولو وروسته، په دوو کاري ورځو کې شکایتونه وڅېړي، او خپله رسمي پرېکړه د پوهنې ریاست له تایید وروسته، د ادارې او سرچینو آمریتونو ته د تطبیق په موخه ولېږي؛

## اعلان نتایج و ثبت شکایات

**ماده بیست و یکم:**

۱. کمیته های ا ستخدام در سطح آمریت های معارف ولـ سوالی و ریا ست های معارف ولایات و شهر کابل مکلفیت دارند تا بعد از برگزاری امتحان الی مدت سه یوم کاری نتایج امتحان کاندیدان را به صورت کتبی اعلان نمایند؛

۲. نتایج امتحان برای سه روز کاری به منظور آگاهی دهی به کاندیدان اعلان میگردد؛

۳. کمیته ارزیابی کاندیدان در آمریت های معارف ولسوالی ها مکلفیت دارند بعد از ختم پروسه ارزیابی پارچه ها، نتایج امتحان را عنوانی ریاست های معارف ولایات مربوطه ارسال نمایند؛

۴. کاندیدانی که به نتایج امتحان خویش قناعت ندارند میتوانند اعتبار از تاریخ اعلان نتایج امتحان در جریان سه روز کاری در مرکز ریاست های معارف ولایات با ارایه درخواستی شکایت خویش را ثبت نمایند.

## رسیدهگی به شکایات

**ماده بیست و دوم:**

**۱. به منظور رسیدهگی به شکایات کاندیدان از نتایج امتحان به سطح ریاست های معارف ولایات کمیته ذیل توظیف میگردد:**

- آمر تضمین کیفیت بحیث مسؤول کمیته؛
- یک تن از کادر علمی تربیه معلم و انکشاف مسلکی/کادر علمی مرکز ساینس در رشته مربوطه بحیث عضو کمیته؛
- مدیر عمومی نظارت و ارزیابی بحیث عضو کمیته؛
- کارمند مسلکی رسیده گی به شکایات در مدیریت عمومی امور کارکنان منشی کمیته.

**۲. وظایف و مکلفیت های کمیته رسیده گی به شکایات:**

- منشی کمیته مکلفیت دارد تا در جریان سه روزه اعلان نتایج شکایات کاندید شاکی را بعد از ارجاع رسمی آن از طریق رئیس معارف مربوطه ثبت نموده و اجندای کاری کمیته رسیده گی به شکایات را ترتیب دهد؛
- مطالبه اسناد مورد نیاز برای رسیده گی به شکایات شامل پارچه امتحان کاندید شاکی همراه با کلید جواب سوالات طور رسمی از کمیته های ارزیابی کاندیدان؛
- کمیته رسیده گی به شکایات مکلفیت دارد تا اعتبار از دریافت اسناد کاندیدان شاکی طی دو روز کاری به شکایات رسیده گی نموده و مصوبه رسمی خویش را بعد ازتائید رئیس معارف مربوطه رسماً عنوانی آمریت های منابع و اداره غرض تطبیق ارسال نمایند؛

- شکایتونو ته د رسېدنې کمیټې مصوبې د تطبیق وړ دي او د سرچینو او اداري آمریتونه او د کارکوونکو د چارو عمومي مدیریتونو مسؤلیت لري چې له مخې یې د ازموینو پایلې بدلې کړ؛

## د ازموینې د وروستیو پایلو اعلان

**درویشتمه ماده**

۱. د ازموینې د لومړنیو پایلو تر اعلان وروسته، که چیرې په درېیو کاري ورځو کې د نوماندانو لخوا کوم شکایت ثبت نه شي، د ازموینې پایلې به نهائي او د تطبیق وړ وي؛

۲. که چیرې دنوماند لهخوا شکایت ثبت شي، تر هغې چې د شکایاتو د رسېدنې کمیټې، وروستي او تایید شوې مصوبه نه وي صادره شوې، د نهایي پایلو اعلان او د بریالي نوماند د تقرر او منظورۍ پروسه دې په هماغه بست کې ودرول شي؛

۳. وروسته له هغې چې د شکایتونو د رسېدنې کمیټې رسمي مصوبه صادره شي، د ازموینې پایلې د یادې کمیټې د پرېکړو له مخې اصلاح کېږي او د ازموینې وروستی پایلې به د کارکوونکو د چارو عمومي مدیریت له خوا اعلان او پلي شي.

**د بریالیو نوماندانو د تقرر په موخه د منظورۍ اقدامات**

**څلور ویشتمه ماده:**

**۱. د کارکوونکو چارو عمومي مدیریتونه مکلف دي چې دبریالیو نوماندانو د تقرر د منظورۍ د ترلاسه کولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:**

- د ټولو بستونو لپاره د دغه لارښود د (۴) ضمیمې له مخې بریالیو نوماندانو ته د بست د تعین وروستۍ فورمې (فورمه نهائي تعین بستی) ترتیبول؛
- د تحصیلي درجې له مخې په نهایي فورمه کې د بریالیو نوماندانو د بست درجې او قدم ټاکل؛
- په نهایي فورمه کې د منظور شوي تشکیل له مخې د هر بست تشکیلاتي کوډونو درج؛
- د بستونو د تعین په نهایي فورمونو کې د ولایتونو او کابل ښار د پوهنې ریاستونو د نوماندانو د ارزونې کمیټې د غړو د تاییدي ترلاسه کول؛

۲. د بریالیو نوماندانو د تقرر جدولونه باید په رسمي ډول د مکتوب له لارې د ولایتونو د همغږۍ ریاست په مرسته د کارکوونکو دچارو عمومي ریاست ولېږل شي؛

## د کارکوونکو چارو لوی ریاست مکلفیتونه

**پنځه ویشتمه ماده:**

۱. د نوماندانو لپاره د ټاکل شوي بست، قدم او دتشکلاتي کوډونو له معیاریتوب او سموالي څخه ډاډ ترلاسه کول؛

- مصوبه های کمیته رسیده گی به شکایات قابل تطبیق بوده و آمریت های منابع اداره و مدیریت های عمومی امور کارکنان مکلفیت دارند تا به استناد آن نتایج امتحان امتحان را تغییر بدهند.

## اعلان نتایج نهایی امتحان

**ماده بیست و سوم:**

۱. بعد از اعلان ابتدایی نتایج امتحان در صورت عدم درج شکایات کاندیدان طی سه یوم کاری نتایج امتحان نهایی و قابل تطبیق میباشد؛

۲. در صورت درج شکایت از جانب کاندید یک بست الی اصدار مصوبه نهایی و تائید شده کمیته رسیده گی به شکایات، اعلان نتیجه نهایی و طی مراحل اخذ منظوری تقرر کاندید موفق در همان بست متوقف میگردد؛

۳. بعد از اصدار مصوبه رسمی کمیته رسیده گی به شکایات، نتایج امتحان مطابق تصمیم گیری کمیته متذکره اصلاح گردیده و نتایج نهایی امتحان از جانب مدیریت های عمومی کارکنان اعلان و تطبیق میگردد.

## اقدامات جهت اخذ منظوری تقرر کاندیدان موفق

**ماده بیست و چهارم:**

**۱. مدیریت های عمومی امور کارکنان به منظور اخذ منظوری تقرر کاندیدان موفق مکلف به انجام وظایف ذیل میباشند:**

- ترتیب فورم نهایی تعیین بستی کاندیدان موفق در تمام بست ها مطابق ضمیمه شماره (۴) این رهنمود؛
- تعیین درجه بست و قدم کاندیدان موفق مطابق درجه تحصیل در فورم نهایی؛
- درج کود های تشکیلاتی هر بست در فورم نهایی مطابق تشکیل منظور شده؛
- اخذ تائیدی اعضای کمیته ارزیابی کاندیدان ریاست های معارف ولایات شهر کابل در فورم های نهایی تعیین بستی؛

۲. جداول تعیین بستی کاندیدان موفق باید طور رسمی ذریعه مکتوب از طریق ریاست انسجام امور ولایت عنوانی ریاست عمومی عمومی امور کارکنان ارسال گردد؛

## مکلفیت های ریاست عمومی امور کارکنان

**ماده بیست و پنجم:**

۱. حصول اطمینان از صحت بودن کود های تشکیلاتی و معیاری بودن بست و قدم تعیین شده برای کاندیدان؛

۲. د منظورۍ د ترلاسه کولو لپاره د وړاندیزونو ترتیبول او د اداري سلسله مراتبو له مخې د وزارت مقام ته یې وړاندې کول؛
۳. اړوندو پوهنې ریاستونو ته د تقرر د منظورۍ تکثیرول؛

## درېیم څپرکی

## متفرقه حکمونه

### ریزرف نوماندان

**شپږویشتمه ماده:**

۱. هغه نوماندان چې د معیاري نمرو په ترلاسه کولو بریالیو نوماندانو په توګه پېژندل کېږي، خو د لوړو نمرو لرونکي نوماند د موجودیت له امله یې تعین بستې ممکنه نه وي، د ریزرف نوماندانو په توګه پیژندل کیږي؛
۲. دنوماندانو د ریزف نېټه د پایلو له اعلان وروسته د یوه کال لپاره داعتبار وړ ده؛
۳. د کارکوونکو د چارو عمومي مدیریت مکلف دی چې د هرې دورې له بشپړېدو وروسته د ریزرف کاندیدانو بانک ترتیب کړي؛
٤. د ولایاتو پوهنې ریاستونه مکلف دي چې د نوې دورې د ازموینو له اخیستو وړاندې، د بستونو په تعیناتو کې ریزرف نوماندانو ته لومړیتوب ورکړي.
٥. د ریزرف نوماندانو د ګمارنې لپاره باید د تعین بستی نهایي فورم د ولایتونو د پوهنې ریاستونو او کابل ښار د پوهنې ریاست د ارزونې کمیټې د غړو لخوا تایید شي؛
٦. ریزرف نوماندانو لپاره د بست په ټاکنه کې د بست موقعیت، د شخص د اوسېدو ځای، د تحصیل او د تدریس رشته او همدا راز لوړو نمرو لرونکی شخص ته لومړیتوب ورکول کېږي؛
۷. که د نوماند له ریزرفۍ یو کال تېر شي، د شخص د ازموینې پایلې باطلېږي او شخص مکلف دی چې د ازموینې په پروسه کې ګډون وکړي.

### د ګمارنې د شرایطو تعدیل

**اوه ویشتمه ماده:**

۱. که چیرې په ځینو لرې پرتو او محرومو سیمو کې، سیمه‌ییز کادرونه، د دغه لارښود، د حداقل شرایطو له مخې پیدا نه شي، د ولایتونو د پوهنې ریاستونه کولی شي د رسمي وړاندیز له لارې، د دلایلو په وړاندې کولو او د سیمې په مشخص کولو سره، په اړوندو بستونو کې د ښوونکو دګمارنې په موخه د معیارونو د ټیټولو وړاندیز وکړي چې وشي کولی په ټیټو شرایطو افراد وګماري.
۲.د ښوونکو د روزنې او مسلکي پراختیار ریاست مکلف دی چې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو لخوا ترلاسه شوي وړاندیزونه وڅیړي او د تعدیل شویو شرایطو په اړه رسمي معلومات د ولایتونو پوهنې ریاستونو ته واستوي؛
۳. د ګمارنې تعدیل شوي شرطونه یوازې په هغو سیمو کې د پلي کېدو وړ دي چې د ولایتونو د پوهنې ریاستونو لخوا په وړاندیزونو کې درج شوې دي.

۲. ترتیب پیشنهادات اخذ منظوری و ارایه آن به مقام وزارت مطابق سلسله مراتب اداری؛
۳. تکثیر منظوری تقرر عنوانی ریاست های معارف مربوط.

## فصل سوم

## احکام متفرقه

### کاندیدان ریزرف

**ماده بیست و ششم:**

۱. آن تعداد از کاندیدانی که با اخذ نمره معیاری منحیث کاندید موفق شناخته میشوند اما به نسبت موجودیت کاندید با نمره بلند تر امکان تعیین بستی آنها نیست منحیث کاندید ریزرف شناخته میشوند؛
۲. مدت اعتبار ریزرفی کاندیدان اعتبار از تاریخ نتایج امتحان برای مدت یک سال میباشد؛
۳. مدیریت های عمومی کارکنان مکلفیت دارند تا در ختم هر دوره امتحان بانک ریزرفان تهیه نمایند؛
۴. ریاست های معارف ولایات مکلفیت دارند قبل از برگزاری دور جدید امتحان در ابتدا به تعیین بستی کاندیدان ریزرف اولویت دهند؛
۵. برای استخدام کاندیدان ریزرف باید فورم نهایی تعیین بستی به تائید اعضای کمیته ارزیابی کاندیدان ریاست های معارف ولایات شهر کابل ترتیب گردد؛
۶. تعیین بستی کاندیدان با در نظرداشت موقعیت بست، محل زنده گی شخص، مطابقت رشته تحصیلی و رشته تدریس بست با اولویت دهی به بلند ترین نمره صورت میگیرد؛
۷. بعد از گذشت مدت یک سال از ریزرفی کاندید، نتایج امتحان شخص باطل بوده و شخص مکلف به اشتراک در پروسه امتحان میباشد.

### تعدیل شرایط استخدام

**ماده بیست و هفتم:**

۱. در صورتیکه در بعضی از ساحات دور دست و محروم کادر های محلی موجود با حداقل شرایط استخدام مندرج این رهنمود پیدا نمی شود، ریاست های معارف ولایات میتوانند از طریق ارایه پیشنهاد رسمی و با ذکر دلایل و مشخص نمودن ساحه مورد نظر تقاضای کاهش معیار های درجه و رشته های تحصیلی مرتبط به بست های معلمین را جهت استخدام افراد با شرایط پائینتر ارایه نمایند؛
۲. ریاست تربیه معلم و انکشاف مسلکی مکلفیت دارد در صورت مواصلت پیشنهادات ریاست های معارف ولایات بعد از بررسی موضوع شرایط تعدیل شده را رسماً عنوانی ریاست های معارف ولایات ارسال نمایند؛
۳. شرایط تعدیل شده استخدام صرفاً در ساحه مشخص شده مندرج پیشنهادات ریاست های معارف ولایات قابل تطبیق است.

## د قراردادي ښوونکو ګمارل

**اته ویشتمه ماده:**

۱. که چیرې د اعلان شویو او ریزرفو نوماندانو له ګمارلو وروسته هم ځینې بستونه په لرې او محرومو سیمو کې خالي پاتې شي، د ولایاتونو د پوهنې ریاستونه کولی شي چې د ولسوالیو د مسلکي پراختیا ټیمونو، محلي شوراګانو، د ښوونځیو مدیریتونو او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو د لزوم دید له مخې، د یو ښوونیز کال لپاره مناسب افراد، د قراردادي ښوونکو په توګه په دندو وګماري او معاش یې د تشکیلاتو له بودجې ورکړي؛

۲. هغه بستونه چې قراردادي ښوونکي په کې ګمارل شوي وي، باید د خالي بستونو په توګه یې د پوهنې وزارت مرکز ته راپور ورکړل شي او د ازموینې په پلان کې دې شامل شي.

۳. که چیرې د پروسې له تکرار وروسته نوماند په یوه بست کې د ازموینې له لارې تاکل کېږي چې په هغه بست کې یو شخص په قراردادي ډول دنده تر سره کوي، د دغه شخص قرارداد د رسمي ښوونکي د دندې له پیل سره فسخه کېږي.

## څلورم څپرکی

## نهایي حکمونه

### انفاذ

**نه ویشتمه ماده:**

۱. دا لارښود په (۴) څپرکو او (۲۹) مادو کې منظور او نافذ دی؛

۲. د دې سند په انفاذ او منظورۍ سره، د ښوونکو د ګمارنې په اړه نور لارښودونه، پروسیجرونه او هوکړه لیکونه لغوه ګڼل کېږي

## استخدام معلمین قرار دادی

**ماده بیست و هشتم:**

۱. در صورتیکه بعد از اعلان و استفاده از تعیین بست کاندید ریزرف نیز یک تعداد از بست ها در ساحات دور دست و محروم خالی باقی می ماند ریاست های معارف ولایات میتوانند اشخاص مناسب را به لزوم دید تیم های انکشاف مسلکی ولسولی ها، شورا های محلی، مدیریت ها و آمریت های مکاتب و آمریت های معارف ولسوالی برای یک سال تعلیمی بحیث معلم قرار دادی با استفاده از بودجه معاشات تشکیل استخدام نمایند،

۲. بست هایی که در آن معلمین قرار دادی استخدام شده اند منحیث بست خالی باید به مرکز وزارت گزارش داده شده و شامل پلان امتحان گردد.

۳. در صورتیکه بعد از تکرار پروسه، کاندید با سپری نمودن امتحان در یک بست دارای متصدی قرار دادی انتخاب میگردد، قرار داد شخص اعتبار از تاریخ اشغال وظیفه معلم رسمی فسخ میگردد.

## فصل چهارم

## احکام نهایی

### انفاذ

**ماده بیست و نهم:**

۱. این رهنمود در (۴) فصل و (۲۹) ماده منظور و نافذ میباشد؛

۲. با منظوری و انفاذ این سند سایر رهنمود ها، رویه ها و تفاهم نامه ها در خصوص استخدام معلمین ملغی پنداشته میشود.

**کمیته ترتیب رهنمود:**

مفتی عبدالولی سداد
رئیس ارزیابی قابلیت ها (معینیت تعلیمات اسلامی)

نجیب الله کامران
متخصص ارشد تعلیم و تربیه

نجیب الرحمن ثاقب
متخصص ارشد منابع و اداره

محمد عظیم کربلایی
متخصص ارشد پلانگذاری تعلیم و تربیه

مسعود صدیقی
کارشناس تعلیمات اساسی و ثانوی

خواجه غیور احمدی
متخصص ارشد هماهنگی منابع بشری

محمد نسیم قاضی زاده
متخصص پلانگذاری معینیت تضمین کیفیت

بشیر احمد اندر
کارشناس ارشد ریاست عمومی دفتر

فضل الرحمن فضلی (بعوض بسم الله باسل)
متخصص انکشاف پالیسی ارتقای ظرفیت معلمین

**تائید کننده:**
الحاج شیخ مولوی سخاء الله سعید
معین تعلیم و تربیه

**منظور کننده:**
الحاج مولوی سید حبیب الله آغا
سرپرست وزارت معارف

وزارت معارف

ریاست معارف (                    )

آمریت معارف (                    )

**ضمیمه شماره (۱) رهنمود استخدام معلمین: جدول جمع آوری بست های خالی غرض شمولیت در پروسه استخدام**

| شماره | ولایت | آمریت معارف | مکتب | عنوان بست | کود تشکیل بست | رشته تدریس بست | جنسیت بست | زبان تدریس بست | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |

**امضاء و تائید مدیر/مدیر عمومی/آمر مکتب**

(۱۴)

وزارت معارف

ریاست معارف (                )

آمریت معارف (                )

**ضمیمه شماره (۲) رهنمود استخدام معلمین: اعلان بست ها**

| شماره | ولایت | آمریت معارف | مکتب | عنوان بست | کود تشکیل بست | رشته تدریس بست | جنسیت بست | زبان تدریس بست | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | |

۱. تاریخ شروع اعلان بست:

۲. تاریخ ختم اعلان بست:

۳. شرایط استخدام مطابق رهنمود:

- حداقل درجه تحصیل
- رشته تحصیل مرتبط به رشته تدریس بست

۴. آدرس محل ارایه درخواستی کاندیدان:

۵. نحوه ارایه درخواستی:

**امضاء و تائید اعضا کمیته ارزیابی کاندیدان ولسوالی/ ریاست معارف**

د افغانستان اسلامي امارت
د پوهنې وزارت

وزارت معارف

ریاست معارف (                    )

آمریت معارف (                    )

**ضمیمه شماره (۳) رهنمود استخدام امعلمین: ثبت شهرت کاندیدان واجد شرایط**

| مشخصات فردی کاندید واجد شرایط استخدام | | | | | | | مشخصات بستی که شخص در آن کاندید است | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شماره | اسم | ولد | درجه تحصیل | رشته تحصیل | زبان مادری | شماره تماس | آمریت معارف | مکتب | عنوان بست | کود تشکیل بست | رشته تدریس بست | جنسیت | زبان تدریس بست | واجد شرایط استخدام |
| | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | | |

نوت: برای هر بست اعلان شده باید یک فورم جداگانه ثبت شهرت کاندیدان واجد شرایط ترتیب داده شود.

**امضاء و تائید اعضای کمیته استخدام ولسوالی ها/ریاست های معارف ولایات**

وزارت معارف

ریاست معارف (                    )

آمریت معارف (                    )

**ضمیمه شماره (۴) رهنمود استخدام معلمین: فورم نهایی تعیین بستی کاندیدان**

| شماره | نام | ولد | ولدیت | درجه تحصیل | رشته تحصیل | مکتب | عنوان بست | کود تشکیل بست | بست | قدم | نمره امتحان | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | |

نوت: مکلفیت ترتیب فورم نهایی در تمام بست های ولسوالی ها/معارف شهر/حوزه های تعلیمی بدوش مدیریت های عمومی امور کارکنان میباشد.

**امضاء و تائید تمام اعضای کمیته ارزیابی کاندیدان معارف ولایات و شهر کابل**



(19)

وزارت معارف

ریاست معارف ولایت (                    )

آمریت معارف ولسوالی (                    )

## کتنگ پارچه امتحان تحریری استخدام معلمین

| | | | |
|---|---|---|---|
| اسم: | | نام مکتب: | |
| ولد: | | عنوان بست: | |
| ولدیت: | | رشته تدریس بست: | |
| **نمبر کتنگ** | | | |

**نمونه سوالات تشریحی انتخابی امتحانات ارزیابی کاندیدان استخدام به بست های معلمین.**

**بخش اول: سوالات تشریحی ( هرسوال دارای دو جز داشته که کاندید با ارایه جواب کامل به یک جز مستحق ۱۰ نمره کامل میباشد**

سوال اول:

جزالف): فرایض حج را مفصلاً تشرح نمایید؟

جزب) اقسام حج را توضیح نمایید؟

سوال دوم

جزالف) اقسام اعتکاف را توضیح نمایید؟

جزب) کارهایکه دراعتکاف حرام است تشریح نمایید؟

سوال سوم

جزالف) نکات اساسی ساختن پلان سالانه را توضیح کنید؟

جزب) پلان درسی ساعت وار دارای چند مرحله میباشد توضیح نمایید؟

سوال چهارم

جزالف) قوه را توضیح نمایید؟

جزب) قانون هوک رامفصلاً توضیح نمائید؟

**بخش دوم: سوالات چهار جوابه ( ٦ سوال چهارجوابه هر سوال دارای ٤ نمره ومجموعه ٢٤ نمره**

سوال پنجم: وحی به چند نوع است؟

الف) ٣ نوع　ب) ٢ نوع　ج) ٤ نوع　د) ٦ نوع

سوال ششم: استفاده از مواد ممد درسی :

الف) تدریس را دلچسب میسازد　ب) سهمگیری شاگردان را کاهش میدهد.

ج) شاگردان را غیر فعال میکند　د) تدریس مفاهیم مجسم را مجرد میسازد.

سوال هفتم :کدام گزینه های زیر تعریف و انواع کمیت‌های فرعی در فزیک را به درستی بیان می‌کند؟

الف) کمیت‌های فرعی کمیت‌هایی هستند که بدون نیاز به کمیت‌های اساسی تعریف می‌شوند و شامل طول، کتله و زمان می‌باشند.

ب) کمیت‌های فرعی از ترکیب کمیت‌های اساسی به دست می‌آیند و شامل مساحت، حجم، سرعت و نیرو می‌باشند.

ج) کمیت‌های فرعی کمیت‌هایی هستند که فقط در میخانیک مورد استفاده قرار می گیرند و شامل فشار و حرارت هستند.

د) کمیت‌های فرعی همان کمیت‌های اساسی هستند که برای اندازه گیری مستقیم به کار می‌روند.

سوال هشتم: کدام یک از مقادیر فزیکی ذیل کمیت وکتوری است؟

١) حجم　٢) کثافت　٣) در جه حرارت　٤) قوه

سوال نهم : قانون جاذبه جهانی نیوتن عبارت است از:

۱) $F = ma$ ۲) $F = qE$ ۳) $F = k\frac{q_1 q_2}{r^2}$ ۴) $F = G\frac{m_1 m_2}{r^2}$

سوال دهم : کدام یکی از رابطه زیر فورمول انرژی حرکی را نشان میدهد:

۱) $E_k = \frac{m^2 v^2}{2}$ ۲) $E_k = \frac{mv^2}{2}$ ۳) $E_k = \frac{mv}{2}$ ۴) $E_k = mv^2$

**بخش سوم : سوالات خانه خالی ( ٤ سوال خانه خالی هر سوال دارای ٤ نمره مجموعه ١٦ نمره**

سوال یازدهم: درفعالیت های آموزشی درصنف باید ( ) اشتراک نمایند.

سوال دوازدهم : برای همه شاگردان دراجرا ی فعالیت های صنفی باید ( ) داده شود

سوال سیزدهم: قوه یی که مانع حرکت و یا لغزش دو جسم یکی بالای دیگر میشود بنام ( ) یاد میشود.

سوال چهاردهم : ساحه برقی یک کمیت ( ) میباشد.

**بخش چهارم: سوالات جواب کوتا ( ٤ سوال جواب کوتاه هر سوال دارای ٤ نمره مجموعه ١٦نمره**

سوال پانزدهم: معلم درتعین اهداف آموزشی کدام ساحات معلوماتی شاگردان را درنظر بگیرد تا مهارتهای عملی و ذهنی شان خوب انکشاف نماید؟

سوال شانزدهم : کتله را تعریف، و واحد آن رابنویسد؟

سوال هفدهم : کمیت را تعریف، وانواع کمیت را بنویسد؟

سوال هژدهم : فرق بین کار و انرژی را توضیح دهید؟

**بخش پنجم: سوالات صحیح وغلط ( دو سوال صحیح وغلط هر سوال دارای ٤ نمره مجموعه ٨ نمره**

سوال نزدهم: ساختمان اصلی یک میکروسکوپ ازدوعدسیه محدب تشکیل شده است؟ ( )

سوال بیستم : حرارت به چهار طریق از یک جسم به جسم دیگر انتقال می کند؟ ( )